# ښائسته مير کاکا

زما په زړۀ د ښائسته مير کاکا تصوير او خبرې داسې ليک دي لکه نن ورځ

رحمت شاه سائل

ډېر خدائي خدمتګار ما ليدلي او ورسره پاتې شوے يم. هغه ورځ مې د رستم يو خدائے بخښلے خدائي خدمتګار په ذهن راوورېدو خو په نوم کښې ئې کېدم. زمونږ د دفتر يو ملګرے صديق احمد هم د رستم اوسېدونکے دے. ما د هغۀ نه تپوس وکړو يره دغلته به يو سپين روبے سړے ؤ چې نوم ئې سېد غياث ؤ، يا سېد غواث دا خو راته معلومه ده چې هغه اوس مړ دے، خو چې د هغۀ څوک کشران شته کۀ نه؟ هغۀ ووې او اوس ئې هم دېره اباده ده، زامن او نمسي ئې شته او د هغۀ نوم سېد غواث کاکا ؤ. ما وې او اوس را ياد شو، مونږ به هم ورته سېد غواث کاکا وئيل. مونږ چې به کله هم دغلته جلسې له لاړو نو د هغۀ دېرې ته به تلو، زۀ پنځۀ شپږ ځله هلته د ولي خان، افضل خان لالا، اجمل خټک، اميرزاده خان، شهزادګل باچا، مهردل خان کاکا سره تلے يم، د خدائے کارونه وو، په سبا له د هغۀ زوئے سېد سجاد د دوؤ نورو ملګرو سره چې صديق هم ورسره ؤ زما دفتر ته راغلۀ، د سېد سجاد په ليدو مې د سېد غواث کاکا تنده ماته شوه، ځکه چې د هغۀ خوئي بوئي هم لکه د خپل پلار ؤ او ډېر خوږ دروند شخصيت ؤ، په خبرو خبرو کښې د هغۀ ملګرو هم برخه واخسته او راته معلومه شوه چې ټول په ټوله د خدائي خدمتګارو بچي دي. لوستي او پوهېدونکي خلق دي.

ما سېد سجاد ته ووې چې ماته کله کله د دغو علاقو هغه خوارۀ درانۀ خلق او سپين سپېڅلي مشران يادېږي، زما د خُلې نه وخاتۀ چې د کالو خان يو مشر ؤ، لا ما ئې نوم نۀ ؤ اخستے چې هغۀ ووې زوار کاکا، ما وې هم دغه زوار کاکا به ماله زما دوکان ته راتلو او کله کله به ئې په خبرو کښې ماته وژړل، دا د هغۀ د باچا خان د فلسفې او خدائي خدمتګارو سره د مينې يو ژوندے دليل ؤ. بيا ما د يو جرنېل صېب ذکر وکړو، ما وې يره نوم ئې رانه هېر دے، څۀ مير مير به پکښې راتلو، خو ډېر لوئے سړے ؤ او خپله ډيوټي به ئې لکه د عبادت کوله، چې په جلسه کښې به چرته هم ورته بدمزګي په نظر راغله نو سيټي به ئې د جېب نه راووېسته وبه ئې غږوله او بيا به ئې په لوړ اواز ووئيل خاموش، خاموش ټکے به هغۀ ډېر اوږد کړو او اواز ئې هم ډېر لوړ ؤ خلق به داسې خاموش شو لکه څنبتې چې چا په ختمه کښې ښخې کړې وي، تقرير به روان ؤ، په روان تقرير کښې به هم جرنېل صېب ازاد ؤ ځکه چې هغه به د خپلې ډيوټۍ په اهميت او ضرورت هم پوهېدۀ او د هغې په باريکيو هم. د هغۀ په شپېلي او اواز کښې به داسې خوند او خوارۀ درانۀ وو چې هر څوک به پرې خوشحالېدۀ، د هغۀ په دې قسم ډيوټۍ څنې زلمي داسې مئين وو چې کله کله به ئې قصداً څۀ نا څۀ ورانے وکړو، د "خاموش" اوږد اواز نه پس به د هغۀ په مخ او شونډو يوه د اطمينان خندا خوره شوه.

په ناستو کسانو کښې حميدالرحمان ووې چې د هغۀ نوم ښائسته مير ؤ، ما وې هم دغه ښائسته مير کاکا. سېد سجاد ووې چې دے په پرمولو کښې اوسېدو خو دے په اصل کښې زمونږ د رستم نږې کلي اوسېدونکے ؤ دا بيا په اخره کښې پرمولو ته تللے ؤ.

حمید الرحمان زما د خبرو په تائید کښې ووې چې زۀ ځوان وم نو ملګرو ته به مې وې چې یره ډېر مې زړۀ کېږي چې ښائسته میر کاکا د نزدې نه ووینم او د دۀ خبرې واورم، هغۀ ووې چې مونږ یوه ورځ صوابۍ ته یوې ښادۍ ته تلو، د شپې په اډه کښې مو چائے څښله، په دې کښې راته یو ملګري ووې هغه تۀ چې د چا د ملاقات او خبرو ارمان کوې هغه سړے خو دغه دے، د هوټل په دغه کمره کښې ناست دے، وې چې ما ورمنډه کړه او ورسره مې بره ګړه وکړۀ چونکې د هوټل دغه کوټه کښې لږه تیارۀ وه نو ما ورته ووې چې کاکا لږ رڼا ته نۀ راوځې، وې ولې نۀ بچیه! چې راووتو نو ما ورته د خپل دې ارمان خبره وکړه، هغه خوشحاله شو او زما نه ئې د ځائے ځائېګي تپوس وکړو، چونکې مونږه د یوې علاقې خلق وو نو هغه هم خوشحاله شو او چې چائے مو وڅښې نو مونږ د باچا خان په فکر او فلسفه خبرې شروع کړې، وې ښائسته میر کاکا راته وې باچا خان چې دا څومره خلقو پېژندلے دے، د ے د دې نه هم ډېر لوئے سړے ؤ، ما ورته ووې چې کاکا هغه څنګه؟ ښائسته میر کاکا ووې چې بچے د باچا خان په ژوند او د هغۀ په فلسفه کۀ درته خبرې کوم، نو شپه به شي، ورځ به شي ا و بیا به شپه شي خو د هغۀ د خلوص، کار او مینې قیصې به ختمې نۀ شي. خو په لنډو به دې د هغۀ په فلسفه پوهه کړم. وې باچا خان خلقو ته نۀ یواځې ژوند ورکړے دے، بلکې خلقو ته ئې د خپل ځان د پېژندو داسې شعور ورکړے دے چې دا کار په زرګونو کالو کښې نۀ چا کړے ؤ او نۀ ئې کولے شو. ولې بچے زۀ نسلاً کسب ګر یم او کسب مې نائی توب دے، وې چې باچا خان زۀ وینښ کړم او راته ئې ووې چې دا ستا وطن دے ، دا دې قام دے، دا دې اولس دے تۀ هم خان ئې او هم پښتون. زۀ حېران وم خو هغۀ ماله زړۀ راکړو او چې مې هغه ځان ته خان او پښتون ووې تر دې پښتون یم.

دا زۀ یواځې د ځان خبره نۀ کوم، داسې ئې د ټولو کسب ګرو سره کړې دي. بیا ئې راته ووې چې بچے داسې وخت راغے چې خدائي خدمتګاري جوړه شوه نو په هغې کښې زۀ باچا خان جرنېل کړم او مونږ به په کچرو پکټنګونه کول، وې چې کله زۀ جرنېل شوم نو د ببړوچ، خبراباد، سرکاوی، چارګلی، کوترپاڼ او نورو کلو ځنې خانانو باچا خان ته ووې چې دا خو تا زمونږ بې عزتي وکړه، مونږ نور تا سره نۀ ځو، باچا خان ورته ووې چې ولې؟ هغوي ورته ووې چې مونږ به اوس د یو نائي په جرنېلۍ کښې کښېنو پاڅو او پرېټونه به کوو. وې هغوي ته باچا خان ووې چې څو پورې د کار خبره ده نو دغه کار ښائسته میر د هر چا نه ښۀ کوي او کۀ تاسو د ے په نائي توب ګرموئ نو زۀ خو ټولو پښتنو ته وایم چې څۀ کار کسب زده کړئ، دا چې کوم هنرمند او کسب ګر خلق دي دا د هر بې هنره سړي نه لوئے خلق دي. دا خو زما نظریه ده، زۀ خو غواړم چې خلق په دې پوهه کړم نو کۀ تاسو په خپله هم په دې نۀ پوهېږئ نو نور خلق به څنګه پوهوئ. زۀ خو د پښتنو دپاره دغسې غواړم او چې دغسې تاسو نۀ شئ کولے نو ځئ په مخه مو ښه! وې چې زۀ د نائي په حېثیت جرنېل شوے وم او تر اوسه اوسه راته خلق جرنېل صېب وائي او هېڅوک ما نۀ دي لیدلي چې ګني ماته ئې په سپکه کتلي وي. نو دا د باچا خان کار او عمل دے. اوس تۀ ووایه چې دا کار د پښتنو په ټول تاریخ کښې بل چا کړے دے؟ او یا چا کولے شو.
حمید الرحمان وائي چې زۀ څومره په نوې ځوانۍ کښې ډېر په لنډو چا د باچا خان په فکر او فلسفه پوهه کړے یم هغه هم دغه ښائسته میرکاکا ؤ، زما ترې زړۀ نۀ کېدو. خو مزل مو په سر ؤ او په ډېره مینه او خوشحالۍ مو د یو بل نه رخصت واخستو. هغه ورځ شوه او دا ورځ شوه زما په زړۀ د ښائسته میر کاکا تصویر او خبرې داسې لیک دي لکه دا نن ورځ.